پوښتنه ګروېږنه :

# د پښتو د زړې املا یووالی

پوښتنه :- له پښتو ټولني څخه په احترام هیله کوم، چي د پښتو ژبي پخوانۍ املا راوښيي، آیا پخوانو پښتنو د لیك له پاره یوه مخصوصه املا درلوده که نه؟ آیا زاړه تحریري اسناد سته که یه؟ دغه املا چي اوس موږ لیك په کوو، له کومه وخته راغلې ده، او څومره عمر لري؟ (کندهار - م.ر).

ځواب :- ښاغلې پوښتونکې !

ستا دا پوښتنه ډېره ګرانه او مهمه ده، له دې جهته چي د پښتو ژبي آثار زموږ څخه ډېر نسته او نه څوك پسې ګرځېدلي دي.

د لندن په موزیم کي د پښتو زاړه کتب سته، خو د هغو پلټنه هم تر اوسه نه ده میسره سوې، نو ځکه ستا د پوښتني غبرګون (ځواب) اوس موږ نه سو درکولای، خو تر اوسه چي موږ څه د پښتو ژبي قلمي آثار لیدلي دي، د هغو له رویه دا ښکاره کېږي چي پښتو ژبي پخوا یو پوره املایي او ادبي وحدت درلود.

د اروپا یو ژوندی مستشرق چي په پښتو کي ښه لاس لري، لیکي چي زه هم د پخواني مستشرق میجر راورټي په عقیده یم، چي پښتو ژبه پخوا د ادبي وحدت خاونده وه !

ځکه هغه کتابونه چي په مختلفو ځایو کي د مختلفو خلکو له خوا کښل سوي دي، سبك یې یو دئ.

مثلاً د زرم هجري کال په حدودو کي مشهور بایزید پیر روښان خپل خیرالبیان کښلی دئ، بایزید خو د کرم د خوا و او ژبه یې باید د وزیرستان په ډول او لهجه وای، مګر د پیر روښان د کتاب او د اخوند درویزه د مخزن الاسلام په سبك او لهجه او املا کي څه فرق نسته.

که څه هم اخوند درویزه د پیر روښان دښمن دئ مګر په ژبه کي سره یو دي او څه فرق نه لري، نو معلومه سوه چي په هغو وختو کي د پښتو ادبي او املایي سبك یو و.

که څه هم د پیر روښان یو شاګرد چي (دولت) نومېږي، داسي دعوه کوي چي د پښتو حروف پیر روښان جوړ کړه، لکه پخپل قلمي دېوان کي چي وایي (۳ مخ) :

افغاني لفظ مشکل و لوست کوینښ نه شو
ورته وشوه کـــــــنده دیارلس حـــــــرفونه

مګر د دولت دا خبره د منلو وړ نه ده، ولي چي تر پیر روښان څلور پېړۍ دمخه موږ په کندهار کي کټ مټ دغه د پښتو املا وینو.

د پښتو ژبي تر ټولو زوړ او پخوانی کتاب چي موږ لیدلی دئ د سلېمان ماکو تذکرۍ الاولیاء ده چي په نثر او نظم یې تر (٦١٢هـ) وروسته د کندهار په ارغسان کي وکښله.

د دې کتاب املا او د اخوند درویزه د مخزن املا څومره فرق نه لري، زړو پښتنو د پښتو مفتوح حروف فقط په فتحه لیکله، مګر وروسته د زور پر ځای (هـ) وراچولې سوې ده.

مثلاً : په، ته، که اوس موږ په (هـ) لیکو، مګر پخوا پ، ت لیکل کېده.

نور د پښتنو مخصوص حروف مثلاً (ږ) او (ښ) په دغو اوسنیو اشکالو کښل کېده، مثلاً د زرم هجري کال په حدودو کي ملا مست شینواري خپل پښتو کتاب (مسلك الغزات) ولیکلی، په دې کي عیناً او کټ مټ دغه

اوسنۍ املا سته، مثلاً : کيږي، کيګي نه ليکي او لګيږي چي اوس يې هم موږ په (ګ) وايو دغسي په (ګ) کاږي.

د ملا مست کتاب خو په ننګرهار او د سپين غره په لمنو کي ليکلی سوی دئ، مګر د سلېمان ماکو تذکره د کندهار د ارغسان ليك دئ او تر منځ يې هم درې څلور پېړۍ تېري سوي دي، مګر د دواړو املا يوه ده او اختلاف يې بېخي جزوي دئ.

هوکې ! تر زرم هجري کال را وروسته پښتو ځيني نوري املاوي هم درلودې، مګر دغه املاوي خلکو د ځانه را ايستلي دي او عندي دي، نه ملي ! مثلاً د خوشحال خان کورنۍ ځانته مخصوصه املا را ايستلې ده دوی د پښتو اکثر مخصوص حروف په (ء) ښيلوي، مثلاً پر دال سربېره همزه ليکي (ډ) يې وايي.

د (ح) په منځ کي (همزه) ليکي، (څ) يې وايي، پر (ر) سربېره (ء) ليکي (ړ) يې وايي.

و قس على هذا، مګر (ښ) په (ش) ليکي، او (ږ) په (ژ) بدلوي.

خو دا املا تر خوشحال خان دمخه نه وه، مرسس يې دی دئ او د ده په کورنۍ پوري حصر ده، بل چا داسي املا نه ده ليکلې، د خوشحال خان څو قلمي کتابونه چي ما ليدلي دي، په دغه املا دي.

دغسي هم د ده د زامنو او لمسيو قلمي دواوين د ده په جوړه کړې املا کښل سوي دي.

خو تر خوشحال خان دمخه چي اکثر کتب او قلمي آثار ليدل سوي دي له دغو کتابو څخه د پښتو ژبي د لهجې او ادب او املا وحدت ځليږي او موږ دا دعوه کولای سو چي زموږ پښتنو اجدادو په يوه لهجه، يوه املا ليك او لوست کاوه او زموږ ژبي بشپړ يووالی درلود[١].

[١] کابل مجله، ۱۳۲۰ ش کال، لومړۍ ګڼه، ۲۹ - ۳۰ مخونه.